# د مؤمن چارې ته حيرانتيا ده، يقينا چې هره چاره يې په خېر ده، او دا (ځانګړتيا) له مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته

له صهيب رضى الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "د مؤمن چارې ته حيرانتيا ده، يقينا چې هره چاره يې په خېر ده، او دا (ځانګړتيا) له مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته، كه خوشحالي ورته ورسيږي نو شكر وباسي او دا د ده لپاره خير دی، او كه مصيبت ورته ورسيږي صبر كوي او دا د ده لپاره خير دی".
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د مؤمن چارې او ټولو حالاتو ته حيرانتيا کوي، دا ځکه چې هره چاره يې په ګټه ده او دا ځانګړتيا له مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته. که خوښي ور ورسيږي نو د الله شکر ادا کوي چې د شکر په پايله کې ورته اجر رسيږي. او که مصيبت ور ورسيږي نو صبر کوي او اجر يې له الله څخه غواړي، نو د صبر په پايله کې ورته اجر رسيږي، يعنې دا چې په هر حال کې اجر ورکول کيږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3298

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee